# د پښتنو شاعرانو کره کتني او تنقيدونه

کره کتنه او تنقيد د انساني فطرت يوه ښه او مفيده مميزه ده له هغه وخته چې د انسان سترګې پر نړۍ سپځېدلي دي د کره کولو ډېر ګټور مظاهر په بشري ټولنه کي ليدل کېږي.

د څېړني او پلټني فطري حس د هر انسان په خټه کي پروت دئ، او هم دغه حس دئ، چي د بشر څېړني پر ميدان ډېر فلسفي افکار او علمي حقايق ځلېدلي او په هر عصر کي د فکر او سد خاوندانو د بشري معلوماتو په ډېرولو او ارتولو کي ښه او ځرګند خدمتونه کړي دي.

د کره کولو او تنقيد د ښه حس سرچينه هم د څېړني د غريزې ځخه رابهېږي، کم وخت چي د انسان فطرت د پلټني او څېړني تقاضا وکړي نو له دې چاري سره کره کتنه هم ملګرې وي.

په حقيقت کي دغه کره کتنه ده، چي انساني علوم او پوهني يې پر يوه حال او د خمود او جمود په ډګر کي نه دي پرېښي، او په هر عصر او په هره زمانه کي انسان ته د څېړني پر ارت ميدان د کره کولو په سترګه، ډېر نوي علمي حقايق ښوولي، او د انساني پوهني په مواج درياب کي نوي ولې او سيندونه ورتوی کړي دي.

له هغه وخته چي انسان د يوه ابتدايي موجود په ډول پر دې نيمګړې دنيا راوپاڅېد، دی د لوی ځښتن د قدرت په مظاهرو کي په فکر او چرت کښېووت، دې فکر کولو دی وپاڅاوه چي د موجوداتو په حقايقو کي د پلټني له خوا داخل سي، لومړۍ پلا د ده معلومات ډېر بسيط او ابتدايي وه، کله به يې د لمر پرستش کاوه، کله به يې سپوږمۍ او باد او تالنده او اور او نور طبيعي مظاهر ارباب انواع ګڼل، مګر هغه فکر او سد چي لوی خالق د ده په ماغزو کي ايښي و، په دغو پلټنو نه سو قانع، شاوخوا يې وکتله، او تر ټولو يې لوړ او لوی خالق وموند او هم دا فکر د ده سره و، چي د "وحدانيت" پلوشې پر وځلېدې او يوه قادر متعال ته يې د بنده ګۍاو عبادت سرکښته کړ.

دغسي نور ابتدايي معلومات او پوهني هم سره يو ځای سوې، انسانانو ټولو ته د غور په سترګه وکتل، غلط او بې اساسه مواد يې پرېښوول، هر شی ته يې په کره نظر وکاته، ځو چي د تنقيد له پلوه علوم او فنون ټول مثبت حال ته ورسېده او لکه اوس ليدل کېږي، دا سلسله جاري ده او دغسي به هم جاري وي. الی ماشاء الله.

د ژوندانه په ټولو اړخو او خواوو کي دا کيفيت جاري دئ، او ځکه چي (ادب) هم د بشري ژوندانه يو ټېنګ رکن او محکم اساس دئ، نو طبعاً تر دغه حکم لاندي دئ، تاسي وګورئ ژبې په هر عصر کي تحول کوي، اړوي را اړوي، نوي اشکال او صور مومي، سوچه او کره کېږي، هغه ځه چي زموږ نيکونو زرکاله دمخه ويل اوس يې موږ نه وايو، هغه فکر چي په ادبي نړۍ کي دوی دمخه کاوه اوس يې لږ آثار او نخښې پاته دي.

دا ولي؟ له دې جهته چي د انسان د کره کولو نظر ډېر تېز او غاير دئ او دا فطري حس ټول شيان کره کوي، سوچه او د پاتېدو وړ مواد يې ساتي، نور غورځوي او له منځه يې باسي.

که د دنيا د ادب تاريخ ته ځير سو په ټولو آدابو کي دا فطري قانون او سنت ا لهی جاري دئ او تل د کره کولو سترګې ځيري دي.

په اوسني عصر کي ادبي تنقيد (لټريري کريټك) د علم الادب يوه هسي مهشوره او مهمه ځانګه ده، چي د ادب زده کوونکي ته يې وينه او لوستنه لازمي ده او ځانته مخصوص فن دئ چي قواعد او اصول يې خورا ډېر او زيات دي.

پخوا هم په ادب کي د انتقاد روح و او شاعرانو به ځيني کره کتني درلودې چي په پښتو ادب کي هم له ابتداء څخه دغسي آثار ليدل کيږي او هر شاعر د نورو کلام ته ځير کيږي او کره کوي يې، يعني په تنقيدي نظر ورته ګوري.

خوشحال خان په پښتو ادب کي لومړی سړی دئ چي د تنقيد له پلوه يې اشعار ډېر خواږه دي، دی د يوه صداقت طرفدار دئ، چي هغه يې په شعر کي ښه ښکاري، پر ځان، پر نورو، پر اوضاعو، پر اخلاقو سخت انتقاد کوي او ژبه يې په دې کار کي ډېره تېره ده، پخپله وايي :

ځما ژبه نه ده اور ده

ګزارونه د ټوپک کا

خوشحال خان د انتقاد او زيړه ويلو له پلوه لکه د عربي بشار داسي دئ، د ده له ژبي څوک په آسانه نه خلاصيږي، د خپل عصر په ډېرو شيانو پوري ملنډې وهي، په ادبي انتقاد کي هم دغسي ګړندی دئ.

تر ده دمخه چي کوم مشهور شعراء تېر سوي دي، په نقاد نظر يې آثار او اشعار ويني، او وايي :

د مـــيرزا ديوان مي ومانډه په ګـــوډي

مسخره مي ارزاني خويشکي زمند کړ

د ده د انتقاد تله ډېره حساسه او ذره سنجه ده، متقدمين په ښه ډول په تللای سي، او د دوی ادبي وزن معلوموي، بيا ځانته هم په هغه نظر ګوري او په قرنو قرنو زمانه د يوه پاخه شاعر اديب د راتللو له پاره ټاکي، لکه چي وايي :

چي لاف وهي د شعر
نن په دا دور دي ډېر
خدای دي نه کا چي به وايم
حال د دويو تېر و بېر
څوک پاوی څوک نيم پاوی دئ
"قلندر" پکښي نيم سېر
د موږه په حساب دئ
هيڅ مي نه دئ "واصل" هېر
بل "دولت" فقير درې پاوه
زه ترې څو سرشاهي تېر
چي په سرای کي به پيدا شي
پس له قرنه پوره سېر

عبدالحميد مهمند چي په پښتو کي په موشګاف مشهور دئ د پښتو د هندي سبك لوی غړی دئ، دی د ادب پر ډګر نقاد او کره کتونکی سړی دئ، او هم د شعر او شاعرۍ له پاره ځانته لار لري، د ده په عقيده شعر او شاعري "موشګافي" او ذره سنجي ده او ځکه چي په نورو شاعرانو کي دا مزيت نه ويني، سخت انتقاد پر کوي، بلکي اکثر شاعران هم شاعران نه بولي، د شاه او ګدای په مقدمه کي وايي :

نه دئ کار د هـــــر نااهل بوا لـــهوس
چي قدم ږدي د دې ناوي په جوس
د قلم چـاوده سـينه کـــوره دوه نيمه
هغه پل ږده د سره ســخن په سيمه
ځو د وينو د درياب مـرجونړا نه شي
مشـــــرف به د دې در په رنړا نه شي

د وينا او شعر مقام هومره جګوي، چي سړي ته يې خاته مشکل ښکاري، بيا نو پر پخوانو تنقيد کوي، دوی د ميدان حريفان نه ګڼي او وايي:

چي بازي په تېره تېغ کا د خبري
وښکې ډېرو پښتنو خپلي ډبري
يو حريف پکښي پيدا د ميدان نه شو
يو ظريف پکښي پيدا سخندان نه شو
واړه وينم بوالهوس په دا ميدان کي
تشي لوبي کا عبث په دا ميدان کي
يوه ګوی د ګفتګو نه دئ اخيستی
ګفتګو د رنګ و بو نه دئ اخيستی
نه يې کړې په پښتو نوې نغمه ده
نه يې ايښې په پارسي ژبه تغمه ده
لکه وړکی په کنجکو هوسيږي
ناديده په لږه چار غره موسيږي

حميد په دې مثنوي کي د تنقيد پر لار په خورا ببړه تللی دئ، او لکه چي د ځينو استادانو حق يې هم د خپل شعر په نشه کي پامال کړی دئ، خوشحال خان او رحمان بابا يقيناً د شعر په دنيا کي تر ده ډېر حق لري، مګر حميد دلته هسي جولان کوي، چي د کوم حقدار حق په سترګو نه ويني او داسي ښکاري چي فقط ځان د دې ميدان شهسوار ګڼي، او "ظريف سخندان" هم فقط ځان بولي و بس.

تر حميد لا بيا هم کاظم خان شيدا ښه دئ، دا سړی هم ډېر موشګاف او دشوارپسند شاعر دئ، په پښتو کې د پاړسو د سبك هندي تلازمات او پېچلي عبارات ننه يستلي دي، دی پنډ دېوان لري، او د پښتو ژبه يې د خپلو شاعرانه آمالو په تلفيقاتو لړلې ده، په انتقاد کي ترخه ژبه لري، زيږه وايي او د هر چا نکوهش کا، مثلاً :

د دې فن سخن سرا دي      چې په دا ژبه ګويا دي
که ناقص وي يا کامل وي      که عالم وي يا جاهل وي
خود ځما تر شعر پوري      چې اشعارو ته يې ګوري
چې نقصان يې د قانون دئ      هر کلام يې ناموزون دئ
ګهي طعن ګاه تشنيع شي      حواله چې په تقطيع شي
پرې د نظم اطلاق څه وي؟      د کلام چې وزن نه وي
و دانا ته هويدا دئ      قباحت پکښې لوی دا دئ
دا چار وګښي آسانه      چې سره له دې نقصانه
په دا فن کي کلام وکا      هر قايل پر اقدام وکا
د هر چا قول دليل شه      د پښتو شعر ذليل شه
له دې طرزه معرا دي      پښتانه چې شعراء دي
په معنا د اشعار عار دئ      چې په لافو دا شعار دئ
نابلد د طريقې دئ      ناواقف د سليقې دئ
راشي دا زېبا بوستان ته      عندليب وايي و ځانته
هم آهنګ د سياه زاغ شي      نشيمن يې دا رنګ باغ شي
بيا غنچه کاندي دلتنګه      ګل پرېشان کا له آهنګه

په دې ډول "شيدا" په خپلو حريفانو ملنډې وهي، مګر کور يې ودان وروسته چې د انصاف ميدان ته راځي دغوني تنزل کوي او وايي :

په دا فن کي څو اشخاص دي      ډېر د موږ خاندان خاص دئ
يو ميرزا، دولت، واصل هم      ښه کلام لري حاصل هم
د پښتو شعر معلوم و      په معنا کي کالمعدوم و
چې قلم په لاس د خان شو[1]      مرتب يې لوی دېوان شو
تصانيف يې فراوان شول      مستند د درست افغان شول
هر شاعر چې د افغان دئ      زيره چين د خان د خوان دئ
خان ممتاز د تمام روه دئ      بل استاد د دې ګروه دئ

شيدا هسې پر حريفانو انتقاد کوي، او په تندو ويلو د دوی زړونه خوږينوي، ښايي چې "يونس" دغه ويناوې اروېدلي وي چې په ځواب کي يې ويلي دي :

حقـيقت يې و يونس و ته څــــرګند دئ
ډېر غرور دي په خپل شعر خټک نه کا

پیرمحمد کاکړ د پښتو شعر یو پیاوړی استاد دئ، دی چي خپلو پخوانو شاعرانو ته ګوري، په ادبي فصاحت او انتقاد کي ډېر ځیر کېږي، د ده فني حواس لکه چي ښه تېز وه، چي د هر چا حق یې ښه ورکړی دئ، د رحمان بابا په خصوص کي وایي :

که هـــر څو وایي نازك شـــاعران شـــعر
ولي دوی ګڼي معـــجز د رحـــمان شـــعر
ســـوز ګداز د محـبت یې مـــګر زیات و
چي سوزان یې هسي شان کړ بیان شعر
تر مصـــراع یې جـــار شه لاړ د مـــرغلرو
په څه تار یې آویخـته کړ یکسان شـــعر

وروسته د خوشحال خان حق داسي ادا کوي، او د انتقاد پر ډګر تر رشتیا ویلو نه تېرېږي :

په شعر کي هم ســـیال د خوشـــحال نسته
که څه درشت دئ دا دده سخندان شعر
که څوك بحـــر مـــواج وایي ورته ښـــایي
په دېوان کي یې مینده شي هر شان شعر
لکه شـــــعر دئ د ده په پښـــتونخـــوا کي
بل به کم وي په دا وخت د افـــغان شـــعر

وګورئ د رحمان بابا شعر یې په "سوز او ګداز" وستایه، د خوشحال شعر یې "بحر مواج" اما "درشت" وګاڼه، دواړه هم دغسي دي، وروسته د نورو د شعر قضاوت کوي او وایي :

بیا رنګین شـــــعر بیان عـــبدالـــقادر کړ
د اشرف دئ هم تر ده نه سوزان شـــعر
پس له دویه موشګاف عبدالحمید دئ
چي یې دئ ښه نازك نکـــته دان شـــعر

د عبدالقادر شعر ته "رنګین" ویل او د اشرف خان دا تر ده "سوزان" بلل هم خوشي الفاظ نه دي. څوك چي په پښتو ادب کي مطالعه لري د دغو الفاظو تقدیر کولای سي.

بیا نو د میرزا په خصوص کي څنګه حقیقي حکمیت کوي، هلته چي وایي :

د میرزا شعر به جـــوړ و ولي درېغه
په وحشي الفاظو ده کړ ویران شعر

میرزا یقیناً دغسي کړي دي او وحشي کلمات یې هسي په شعر کي کوته کړي دي چي خوند یې ور بد کړی دئ.

پیرمحمد د ځان په باره کي په پټه خوله نه دئ پاته او لکه چي حق هم لري، په معاصرینو کي ځان استاد بولي، لکه چي وایي :

چي انصاف زه پیرمحمد کړم لافي نه کـړم
په همعصرو کي مي خوښ دئ د ځان شعر

میرزا حنان کندهاری چي د حمید د مکتب پیاوړی شاگرد دئ، په ادبي کره کتنه کي هم بې برخي نه و، دی چي د حمید د سبك ملگری و طبعاً يې خپله رویه خوښوله، ځکه نو حمید ته په شاعرانو کي لوړ مقام ورکوي، او د "ناسفته مرغلرو پېودونکی" يې بولي، نور شعرا هم یادوي، مگر په نورو الفاظو :

شـــاعران د پښـــتنو ډېر دي تر ســل
څـــو به کړم درته مـــعلوم زه په ویل
یو میرزا میرخان دولت د علم کان و
د سلوك شـــعر يې کړی دئ افـــضل

دلته حنان د میرزا او دولت حق ښه ورکوي سلوکي شاعران يې گڼي، وروسته وايي :

بل اخوند میا داد د عشق په میو مست و
ښه شېرین الفاظ ویلي دي واصل
بل رحمان سړبنی د پېښور دئ
د پښتو يې غزل به دئ یو تر بل
د خوشحال خټك ویل کل نصیحت دي
په ظاهر يې مسخرې بوله بالکل
بل عبدالقادر شاعر د خوشحال زوی
ښه کتاب يې دئ جوړ کړی لکه گل
بل حمید موشگاف د خیال په شعر
څه به وایم ناسفته در يې پېیل
علي خان اخوندزاده هم ښه شاعر و
ښه آبدار در يې له ژبي تویول
ملا حسن اخوند ښه پیر په تلوکان کي
په ویلو کي د شعر ډېر اکمل
د اخوند ملا پیرمحمد نظم که واورې
هر گفتار يې دئ په مثل د بلبل
جان محمد حافظ کاکړ په نعت و مدح
سیال يې نه و په پښتو کي په ویل

تر دې وروسته خپل معاصر شمس الدین ته په تنقیدي کتنه ځې کېږي، او متکلف شاعر يې گڼي :

اوس زموږ د زمانې ملا شمس الدین دئ
په تکلیف يې جـــــوړول مـــــدام غـــزل

اما بل معاصر چي صدیق اخوندزاده دئ، ستايي او د فن پوه يې گڼي:

اوس صدیق اخوندزاده ښه شعر وایي
ډېر ښه پوه دئ د بیتو په نښلول
ملا جمعه په شاعري کي ډېر استاد و
په هر بیت سره یې زړونه سولول
د عیسی اخوندزاده شعر که واورې
آفرین به باندي وایې تل تر تل
د سکوت مهر پر خوله کښېږده حنانه !
څه غرض لرې د خلکو په ښوول؟

اوس به راسو پخپله ملا شمس الدین کاکړ ته چي د حنان له خوا په تکلف مطعون سوی دئ، اما دی لکه چي حنان ویلي دي هومره په دې بلا نه دئ اخته، پخپله د حنان سبك د حمید په پیروي څه نه څه تکلف لري، ځکه د تلازم او استعاراتو له پاره اکثراً د ژبې خوږتوب او رواني بایلي.

شمس الدین چي د پیرمحمد پیرو او شاګرد دئ له خپله استاده د عذوبت او سلاست درس اخلي، د ده تنقیدي نظر هم ښه دئ، مثلاً :

که څوك ونیسي په لاس مېزان د شعر
په عروض کا سنـــــجیده بیان د شـعر
و به نه رسي په شـــــعر له رحــــمانه
که هر څوکوي هــوس افغان د شــعر

دلته چي رحمان بابا ته تر ټولو لوړه درجه ورکوي، رشتیا وایي، ځکه چي د اکثرو له خوا هم د ده مقام منلی سوی دئ، وروسته وایي :

پس له ده نو موشګاف عبدالحمید وي
باریکي یې د کلام ده ځان د شعر
درست دېوان یې له نوخطو ګفتګوی کا
هم یې واخیست له نوخطو شان د شعر
ښه مضبوط شعر بیان عبدالقادر کړ
ځکه دی په پښتانه کي کان د شعر
په غزل کي یې لږ پست و بلند نشته
برابر یې دئ تمام سامان د شعر
علي خان په رنګین شعر که خبر سې
هر غزل یې دئ تنها دېوان د شعر
نه رسېږي د چا لاس د ده تر فکره
هسي شان یې کړ بلند اېوان د شعر

وګورئ شمس الدين د هر چا مرتبه په ښه ډول معلوموي، حميد باريك بين او موشګاف بولي، د عبدالقادر شعر ته په متانت او دروندوالي قايل دئ، علي خان رنګين بيان بولي، او دا ټول هم د ده له نقطهٔ نظره صحيح دي، او تر يوې اندازې مورږ هم حق ورکوو، وروسته چي پر خوشحال خان راځي، د ده ادبي تعبير ډېر خوږ دئ :

د خوشحال خټك پر شعر نظر وکړه
بيا څه کوي په يوه تار کاروان د شعر

ګويا خوشحال خان په ادبي دنيا کي هومره قدرت لري چي د شعر کاروان په نري تار څکولای سي، او دا مرتبه هم د ده له شانه سره ښايي.

وروسته د ميرزا او نورو په خصوص کي هسي رايه ښکاره کوي، او کره ورته ګوري :

د فقير ميرزا پر شعر ويل نشته
بل به نه وي هسي شان دکان د شعر
په رديف کي برابر دئ ولي دريغه
بې معنی الفاظ يې کړي نقصان د شعر
قلندر او د ميرا دېوان موجز دئ
منتخب يې څو غزل عيان د شعر
بل شاعر عبدالرحيم د بخارا دئ
چي يې نه و په رديف پايان د شعر
پيرمحمد کاکړ په شعر کي نامدار و
يووړ قبر لره ده ارمان د شعر
که د واړو شاعرانو حال بيان کړي
نه کړي څوك پر "شمس الدين" ګمان د شعر

د ميرزا شعر ته دکان ويل او په بې معنا الفاظو ورانول رشتيانی تعبير دئ، ولي چي ميرزا يقيناً دغسي کړي دي، قلندر او ميرا موجز اشعار لري او عبدالرحيم هم دوني ډېر شعرونه ويلي دي، چي پای نه لري، اما که نور مزايا پکښې وغواړو لږ به وي، د پيرمحمد په خصوص کي شمس الدين ژر فيصله کوي او ښايي چي دا ايجاز قصدي او ارادي وي، او د لوم لايم څخه بېرېدلی وي، که نه وي پيرمحمد ډېر حق لري او يوازي يې دا صفت نه دئ، چي قبر لره يې د شعر ارمان وړی دئ، بلکي په ژوندانه کې قيمت دار اشعار هم ويلي او مورږ ته يې پرې ايښي دي.

په وروستنيو شعراوو کي عبدالله محزون کندهاری هم د شعراو تر منځ حکميت کوي، پخپله دی لکه حنان د حميد د مکتب شاګرد دئ، او خپل استاد عبدالحميد ته ډېر زړه اخلاص لري او ډېر ډېر يې ستايي لکه چي وايي :

د عبدالحميد د ژبې څه تعريف کړم
مــــونده نه سي په پښـــتو کي بله ژبه

مګر د نورو شعراوو يادونه هم کوي، او دوی ستايي يا تنقيد پر کوي، لکه :

یو ځو کسه شاعران چې د پښتو دي
ته یې یاد کړه ګوندي زړه سي په خوشتره
د حمید موشګاف خیال و ته هوښ کړه
ګوندي سي د ده په جذب تېز نظره
د میرزا حنان د شعر نکتې زده کړه
معلومېږي دی پر ډېرو باندي غوره
د رحمان له شعره بوی د معجزې ځي
مرید ژر کاندي له پیره برابره
بل رحمت داوی کتاب لري دلکشه
ګمان نه کړم چي بې ځوك لري دفتره

شمس الدین اخندزاده د کلچابات دئ
د قلم په شان یې ژبه ده دوه سره
بل محمداکرم اخند زما استاد و
........................................................
صدیق صدیق ځان له وایي یم د ښهر
دا نور واړه اعرابان بولي دلبره
ملا میران که بیا وګورې بلا وایي
وای بهتر یم تر حمید په ځو هنره
پختګي د شعر نه شي بې له علمه
فیض الله رنګه امي نه و له سره
د اخند ملا پیرمحمد هم ښه کتاب دئ
ډېر دقیق غزل لري لکه ګوهره
د عبدالکریم غزل مي اروېدلی
زړه د ښځه پرېکوي لکه خنجره

د عبدالله تنقیدي نظر هم پوخ دئ، حمید موشګاف او حنان نکته شناس غوره شاعر او رحمان بابا د معجزکلام خاوند او رحمت د دلکش دفتر څښتن، او شمس الدین د دوه سري ژبي لرونکی بولي.

صدیق اخندزاده ځکه چي د کندهار په ښار کي اوسېدی، نو یې ښاروال او مدني شاعر ګڼي، د ملا میران لافي شاپي نه مني، وایي خوشي بلاوي وایي، ملا پیرمحمد د دقیقو غزلیاتو څښتن بولي، او د عبدالکریم غزلیات د زړو رېبونکي ګڼي.

په دې ډول په پښتو ادب کي د شاعرانو یو له بله ستاینې او تنقیدونه یو غوره باب دئ او ځکه چي هر شاعر له فني حواسو او ادبي مشاعرو څخه یوه برخه لري نو د ده تنقیدي کاته هم د غور او لوستلو وړ دي.

په حقیقت کې هغه فني طبیعت او ادبي مزاج چې شاعر یې لري، رنګونه او ډېر ډولونه لري، نو هر شاعر د خپل طبیعت او مزاج له اقتضا سره ځینې اشعار او سندري خوښوي، او ځیني نه خوښوي.

دا خاسه طبعاً انتقادي روح او د کره کتني خواهښت پیدا کوي، نو ځکه زموږ پښتنو شاعرانو هم ځیني ادباء په ښه سترګه لیدلي او ځیني یې غندلي دي.

د دې فصل کتنه موږ ته دا خبره هم څرګندوي چې پښتانه شعراء وچ کلك او تش شاعران نه وه، بلکې دوی په خپل فني طبیعت کې د انتقاد قوه هم درلوده، نه یم خبر چې دا څلوریځه د چا ده، خو یوه کندهاري شاعر ویلې ده، او ښایي چې صدیق اخندزاده وي، او د تنقید یوه فکاهي نمونه ده:

په پښتو کې یا خوشحال، رحمان، حمید دي
که ته زبر ســـخن ســـاز غـــواړې بل نشـــته
اوس ملا مـــیران خـــو وایي چې زه هـــم یم
که ته ده غـــــوندي ... غـــواړې بل نســـته

کابل مجله، ۱۳۲۳ ش کال، ۱۰ ګڼه، ۱-٦ مخونه.